# د Broadlawns طبي مرکز اړوند د ټولنې پاملرنې او د مالي مرستې پروګرام
# په عام فهمه ژبه لنډیز

## زموږ ژمنه

د Broadlawns طبي مرکز ټولو ناروغانو ته بیړنۍ او له طبي پلوه اړینه پاملرنه چمتو کوي پرته له دې چې د هغوی د تادیې وړتیا په پام کې ونیول شي. همدارنګه موږ د شرایطو د پوره کولو په صورت کې هغو ناروغانو ته هم مالي مرسته او تخفیفونه وړاندې کوو چې له سره بیمه نلري یا د محدودې کچې بیمه لري.

## څوک غوښتنلیک ورکولی شي

ښايي تاسو د دې پروګرام لپاره وړتیا ولرئ که چېرې:

- تاسو په Polk کاونټي کې اوسېږئ او د متحده ایالاتو تابعیت لرئ یا یو قانوني اوسیدونکی یاست.
- تاسو بیړنۍ یا له طبي پلوه کومې بلې اړینې پاملرنې ته اړتیا لرئ.
- ستاسو عاید یا سرچینې محدودې وي یا ستاسو روغتیايي مصارف ستاسو د عاید په پرتله ډېر لوړ وي.

## تخفیفونه څنګه کار کوي

تخفیفونه ستاسو د کورني عاید پر بنسټ محاسبه کیږي چې د بې وزلۍ په شرایطو کې د عاید لپاره د فدرالي لارښوونو (FPIG) سره پرتله کیږي. که چېرې ستاسو عاید د FPIG د کچې 600 سلنه یا تر دې کم وي نو ښايي تاسو د جزوي یا بشپړې مالي مرستې لپاره وړتیا ولرئ.

## په پروګرام کې شامل خدمتونه

- په Broadlawns طبي مرکز کې د روغتون، کلینیک، د عاجلې پاملرنې او د بیړنۍ پاملرنې خدمتونه.
- په Broadlawns طبي مرکز کې د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکو لخوا وړاندیز شوي درمل (محدود مقدار).
- د Broadlawns لخوا چمتو کیدونکي محدود طبي تجهیزات.
- طبي عینکې

## له پروګرام څخه بهر خدمتونه

- هغه خدمتونه چې د Broadlawns څخه بهر وړاندې کیږي تر هغه چې تصویب شوي نه وي.
- هغه خدمتونه چې له طبي پلوه اړین نه وي.

## د غوښتنلیک ورکولو څرنګوالی

1. غوښتنلیک ترلاسه کړئ: له مالي مشاورینو، د کلینیک له کارکوونکو څخه یا د www.broadlawns.org له لارې.
2. د عاید ثبوت وړاندې کړئ: د معاش رسیدونه، د مالیې د تادیې ثبوتونه، د ټولنیز امنیت اسناد یا نور اړوند اسناد.
3. په Broadlawns Financial Counseling, 1801 Hickman Rd, Des Moines, IA 50314 پته خپل غوښتنلیک وسپارئ.
4. د مرستې لپاره له تصدیق شوي مالي مشاور سره په 515-282-2246 شمېره اړیکه ونیسئ.
5. تاسو به یو لیکلی پرېکړه لیک ترلاسه کړئ. که غوښتنلیک مو رد شي نو کولای شئ چې د ردېدو له نېټې څخه په 10 ورځو کې دننه اپیل وکړئ.

## مهم یادښتونه

- د مالي مرستې تصويب تر 12 مياشتو پورې اعتبار لري.
- تاسو بايد په عايد يا بيمه کې د هر ډول رامنځته شوي بدلون په اړه په 10 کاري ورځو کې دننه خبر ورکړئ.
- که چېرې تاسو د روغتيا بيمې لپاره وړ ياست نو بايد په اړه يې غوښتنليک ورکړئ او فعال يې وساتئ. ښايي په دې کې Medicare، Medicaid، ستاسو د دندې له لارې چمتو کيدونکې بيمه يا هغه پلانونه شامل وي چې د [Welcome to the Health Insurance Marketplace® | HealthCare.gov](https://www.healthcare.gov) له لارې وړاندې کيږي.
- هغه ناروغان چې عمرونه يې له 19 کلونو څخه کم وي بايد لومړی د ايالتي پوښښ پروګرامونو (Medicaid يا Hawk-I) لپاره غوښتنليک ورکړي.
- دا مرستې يوازې هغه مهال پلي کيږي چې نور ټول موجود پوښښونه (بيمه، Medicaid، Medicare) کارول شوي وي.

## د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو سرچينې

د Broadlawns ويب پاڼې [https://www.broadlawns.org/patients-and-visitors/billing-financial](https://www.broadlawns.org/patients-and-visitors/billing-financial) څخه ليدنه وکړئ.
له مالي مشاور سره په 515-282-2246 شمېره اړيکه ونيسئ.
زموږ په روغتون او کلينيکونو کې بروشورونه او لوحې/بينرونه وګورئ.